د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز

علمي څېړنیز - سیمینار

# د ماشوم ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې

## د علمي - څېړنیز سیمینار لپاره د مقالو غوښتنه

### د موضوع ارزښت

د ماشوم ادبیات د هغوی د فکري او رواني ودې او پرمختګ د پروسې مهمه برخه ده. په دې ډول ادبیاتو کې د ادبي آثارو هغه مجموعه شامله ده چې د یوه ځانګړي عمر لپاره کښل کېږي؛ یعنې د ماشومتوب له پیله تر بلوغه پورې. په دغو ادبیاتو کې هغه کیسې، نظمونه، احساسات او نظرونه شامل دي چې د ماشومانو د پوهې او د درک له کچې سره سمون لري. د ماشوم ادبیات د خپلو اسانو او ساده ځانګړنو سره سره ښوونیزه، روزنیزه او تفریحي بڼه لري.

### د سیمینار موخه

د ماشوم د ادبیاتو موخه د هغوی د لوستلو او لیکلو مهارتونو ته وده ورکول، د ژبنۍ پوهې لوړول او داسې موضوعات وړاندې کول دي چې هغوی تخلیقي او انتقادي فکر ته وهڅول شي. د ماشومانو لپاره شعرونه، کیسې او کتابونه لیکل یوازې د تفریح وسیله نه ده، بلکې دا تعلیمي او روزنیز وسایل دي چې د ماشوم ادراک او روان ته وده ورکوي. ماشومان د کیسو له لارې اخلاقي او ټولنیز ارزښتونه، لکه رښتینولي، استقامت، همکاري او درناوی زده کوي.

همدې او دې ته ورته نورو مسایلو ته په پام سره د افغانستان د علومو اکاډمي د بشري علومو معاونیت د ژبو او ادبیاتو مرکز پتېیلې چې «د ماشوم ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې» علمي- څېړنیز سیمینار د روان (۱۴۰۴ل) کال د سلواغې میاشتې په لومړیو کې دائر کړي.

### د سیمینار محورونه

۱- د ماشوم د ادبیاتو پېژندنه.

۲- د اسلام له نظره د ماشوم روزنه.

۳- د ماشوم په روزنه کې د ادبیاتو رول.

۴- د ماشوم ادبیاتو ښکلاپوهنیزه څېړنه.

۵- د ماشوم ادبیاتو ژبنۍ څېړنه.

٦- د ماشوم د ادبیاتو کره‌کتنه.

نو ټولو پوهانو، څېړونکو، استادانو او لیکوالانو ته په ډېر درنښت بلنه ورکوو چې په دې اړه خپلې علمي-څېړنیزې مقالې له ټاکل شویو پورتنیو محورونو او لاندې وضع شویو اصولو سره سمې ولیکي او برېښنالیک یا د وټساپ شمېرې ته یې د مرغومي میاشتې تر ۲۰مې نېټې پورې را واستوي.

د علمي کمیسیون د تأییدولو لپاره دې د مقالې سرلیک د ۱۴۰۴ل کال د مرغومي میاشتې تر ۴ مې نېټې پورې را واستول شي.

د مقالې د را لېږلو وروستۍ نېټه: ۲۰/مرغومی/۱۴۰۴ل

## د مقالې لیکنې اصول

۱) مقاله دې د لیکوال له نوم، تخلص، علمي رتبې (که یې ولري)، دندې، اړیکې شمېرې او برېښنالیک سره مل پورتنیو ادرسونو ته را ولېږل شي.

۲) را لېږل شوې مقاله علمي- څېړنیزه، نوې او له منل شویو علمي معیارونو سره برابره وي.

۳) مقاله به په بل ځای کې نه وي خپره شوې.

٤) د مقالې جوړښت دې په دې ډول وي:

- الخلاصة / Abstract
- لنډیز
- کلیدي کلمې
- سریزه
- موخه او مبرمیت
- د څېړنې پوښتنې
- د څېړنې مېتود او ډول یې
- اصل متن
- پایله
- وړاندیزونه
- مأخذونه

٥) په مقاله کې مأخذونه د APA په بنه وي.

٦) مقاله د لیکوالی له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه‌لري او اداري ته دې هارډ او سافټ (word) بڼه را ولېږل شي.

۷) د سیمینار علمي کمیسیون د علومو اکاډمۍ د نشراتي لایحې له مخې د مقالې د تأیید، رد او اصلاح واک لري.

**۸)** په سیمینار کې یوازې د مقالې مهمې برخې او لنډیز د (۱۰) دقیقو په حدودو کې وړاندې کېږي.

## اړیکې


- څېړنپوه محمد آصف احمدزی، asif.ahmadzai@yahoo.com، **وټساپ شمېره:** +۹۳۷۷۷۳۰۰٤۷۱

- څېړنپوه برهان الدین نظامي، br.nezami٤٢@gmail.com، **وټساپ شمېره:** +۹۳۷۰٤۲۳٥۰۲٥

- څېړنوال احسان الحق کبیر، ehsanulhaq.kabir@gmail.com، **وټساپ شمېره:** +۹۳۷٤٤٤۸۷۳۳٥